بسم الله الرحمن الرحیم

# د جرمني په کولن ښار کې د افغانستان ملي يووالي ګوند د اروپايي شورا د غونډې راپور

د ۲۰۱۳ کال د مې په ۲۶ چې د ۱۳۹۲ کال د جوزا ۶ نيټې سره سمون خوري، د افغانستان د ملي يووالي ګوند د اروپايي شورا غونډه په کولن کې جوړه شوه.



غونډه د قرآن کريم د څو آياتونو په لوستلو سره د ښاغلي حضرت رسول له خوا پرانستل شوه او وروسته له هغې د غونډې اجندا د غونډې د ګډونوالو سره شريکه شوه. د غونډې اجندا له دوو برخو څخه جوړه شوې وه. يوه برخه يې په افغانستان کې د روانو ستونزو او د هغې د عمده او اساسي علتونو د څېړنو دپاره او بله برخه يې ګوندي چارو ته ځانګړې شوې وه.



دغې غونډې ته نه يوازې د افغانستان د ملي يووالي ګوند غړي په اروپا کې رابلل شوي وو، بلکې په اروپا کې نورو مخورو شخصيتونو او د بيلابيلو ټولنو غړو ته هم بلنه ورکړل شوې وه.



د غونډې په پيل کې د افغانستان ملي يووالي ګوند مشر پوهنوال ډاکتر عبدالرشيد جليلي د غونډې ګډونوالو ته خپله وينا واوروله. ډاکتر عبدالرشيد جليلي په خپله وينا کې په ډاګه کړه چې په افغانستان کې د اوسني ناورين او د ۳۴ کلونو اوږدو جګړو عمده او اساسي عامل د افغانانو ټوټې ټوټې او ويشلې حالت دی چې د ډيورند د کرغيړنې تورې کرښې پواسطه منځ ته راغلی دی. د دې دپاره چې افغانان نور ځان له دې کړاوونو څخه وژغوري، په کار ده چې لر او بر افغانان ځان نور د ښکيلاک له ژونده وژغوري ، يو قوت شي او د تيريو دې ناروين ته نور د پاي ټکی کيږدي.
وروسته بيا د ډاکتر عبدالرشيد جليلي په وينا باندې د غونډې د ګډونوالو له خوا هر اړخيزې څرګندونې وشوې. د غونډې ټول برخه والو په دغه ټکي کې همغږي وو چې د نني ناورين نه د خلاصون لاره يوائې او يوائې د لر او بر افغانانو د يووالي په نتيجه کې د يو ستر ځواک په مټ منځ ته راتلای شي.



پوهاند محمود سوما بیا په افغانستان کې د اوسني ناورین په تاریخي اړخ باندې رڼا واچوله. ده زیاته کړه چې افغانان په زور چا نه دي ایل کړي. انګلیسانو هم کله چې ولیدل چې افغانان په زور نه ایل کیږي نو لومړې د ګندمک او بیا د ډیورنډ د کرغیړونو معاهدو له مخې یې په توطیه افغانان بیل او په دې ډول کمزوي کړل. چې د افغانانو له بیلوالې او ټوټې ټوټې کیدو دوئ کمزوري او د پردیو لاسوهنو او تیریو دپاره یوه ښه زمینه شوه.




په غونډه کې راغلو میلمنو هم خپل د نظر ټکې د غونډو ګډونوالو ته واورل:
ښاغلي ماخان شینواري په اوسنیو حالاتو کې د یو ملي زعامت منځ ته راتګ ډیر اړین وبلل او د یو ملي غورځنګ د جوړیدو لپاره یې، لومړی د ملي زعامت شتون حتمي وګانه.
همدارنګه ښاغلي ډاکتر فضل ربي د ملي ګوندونو دنده وبلله چې په افغانستان کې د راونو بدبختیو په وړاندې چوپه خوله پاتې نه شي او خپل غږ اوچت کړي. ده خاصتاً په هغه ګوندونو چې له افغانستان څخه بهر په اروپایي هیوادونو کې څانګې لري، غږ وکړ چې د افغانانو په وړاندې د روانو ناخوالو په ضد مظاهرې وکړي او خپل غږونه اوچت کړي.




د غونډې په دویمه برخه کې چې د ګوند د کونیو چارو په پیاوړي کیدو د بحث دپاره ټاکل شوې وه، په اروپا کې د اروپایي شورا د استازو او ګوندي غړو له خوا د ځایي سازمانونو د چارو د څرنګوالي په راپورنو ورکولو سره پیل شوه. د

ناروې، اطریش،هالند ، دنمارک او جرمني استازو په خپل ورا سره د ځايي سازمان د کړونو په هکله د غونډې ګډونوالو ته خپل راپورنه واورول.
همدارنګه په غونډه کې د افغانستان ملي يووالي ګوند برخه والو غړو خپل خپل نظرونه د افغانستان د روان ناورين څخه د خلاصون دپاره وړاندې کړل او د ګوند د کورنيو ستونزو په اړوند يې هر اړخيزې څرګندونې وکړې.




په اروپا کې د افغانستان د ملي يووالي ګوند د اروپايي شورا مشر محمد بشير بشريار، په اروپا کې په ګوندي کړنو رڼا واچوله او د ګوند غړي يې د ګوندي چارو د پرمختګ لپاره د يو ټينګ شکل او نظم د جوړولو په لور وهڅول. ده د ګوند په غړو ټينګه وکړه چې د ګوند د مالي بنسټ د قوي کيدو په خاطر خپل د غړيتوب حقونه په خپل وخت سره ورکړي.



ښاغلي ډاکتر سيد احمد ماموند په ټوله کې د ګوندونو په شتون باندې په افغانستان کې او د دې ګوندونو اغيز په افغاني ټولنه باندې رڼا واچوله. د يو ګوند د منځ ته راتګ دپاره يې لومړې تر هر څه د يو ګوند ملي توب ډير اړين وبلل.

ښاغلي حضرت رسول بيا د ګوندي تشکيلاتو د لا پياوړي کيدو پخاطر خپلې څرګندونې وکړې.








همدارنګه ډاکټر نواب ویساند ، ډاکتر مصطفی ، ښاغلي نظیف الله نهضت ، شاولي ارین ، څارنوال غلام حضرت حساس ، ښاغلي غلام حبیب آشنا او ښاغلي پیښوري شینواري د ګوند د چارو د سمبالښت او پیاوړتیا دپاره هر اړخیزې خبرې وکړې.



په پاې کې غونډه د قرآن مجید د څو دعایه مبارکو آیتونو په لوستلو سره پای ته ورسیده، او د غونډې د برخوالو له خوا د افغانانو د سوکاله ژوند دپاره د افغانانو د یووالي او د یو پیاوړي او لوي افغانستان د جوړښت دعا وشوه.

غونډه وروسته له پنځو ساعتونو څخه د ماښام په نهو بجو پای ته ورسیده.